شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

نبي کريم ^(ص)^ خپل اُمت ته د پنځو څيزونو سپارښتنه کړې:
نبي کريم ^(ص)^ فرمايلي: زه تاسو ته د پنځو شيانو امر کوم، چې د هغه حکم زما رب ماته کړی دئ؛ د خپل امير اطاعت کوئ او د هغه خبره اورئ، عمل په کوئ، د جماعت سره ملګري کېږئ، هجرت کوئ او جهاد کوئ. [ترمذي شريف]
نبي کريم^(ص)^ به امت خود پنج چيز را توصيه کرده است:
نبي کريم^(ص)^ فرمود: من برای شما آن پنج چيز را امر ميکنم، که آن را رب من برايم حکم کرده است؛ از امير خويش اطاعت کنيد، سخنان او را شنيده و بالايش عمل کنيد، با جماعت يکجا شويد، هجرت و جهاد کنيد. [ترمذي شريف]
( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

پچشنبه | د جمادي الثاني ۱-۱٤٤٥ / د لیندۍ ۲۳-۱٤۰۲ / ډیسمبر ۱٤-۲۰۲۳ /دوهم کال / ۷۸ گڼه/ ٤ مخیز ۱

## سرمقاله

### د افغانستان اسلامي امارت د مالي برخي ادارو ارزښت

نظامونه یا دولتونه د ګڼ شمېر ادارو له اداري تسلسل څخه رامنځته کېږي، چې هر اداري واحد د نظامونو د چارو په پرمخ وړلو کې خپل ځانګړی مسؤلیت او رول لري؛ لکه: بودیجوي واحدونه، غیر بودیجوي واحدونه یا اداري او همدارنګه پالیسۍ جوړوونکي او پرېکړه نیوونکي، قضایي او عدلي او داسي نوري اداري، چې خپلو دندو او مسؤلیتونو ته په کتو یوه اداري کړۍ را منځته کوي او د دغو ادارو د مشترك كار او همغږۍ په مټ دولت خپل فعالیت روان ساتي او ملتونو ته چوپړتیاوي وړاندي کوي. همدغه شان د افغانستان اسلامي امارت هم د نورو اداري تشکیلاتو ترڅنګ په مالي برخه کې دوه ډوله اداري واحدونه لري، چې بودیجوي او غیر بودیجوي ورته ویل کېږي. دا چې د افغانستان مالي نظام او سیستم منظم او با ثباته پاتي سي، د عوایدو را ټولولو او د بودیجې په جوړولو کې نیمګړتیاوي رامنځته نه سي او په همدې برخو کي تر بل هر وخت غوره خدمتونه وړاندي سي؛ نو دوه ډوله مالي اداري دي، چې د مالي نظام د ټیکاو او پایښت لپاره شپه او ورځ فعالیت کوي او د مالیې وزارت ورځنۍ چاري ورسره رواني دي.
په لومړي سر کي بودیجوي واحدونه دي: بودیجوي واحدونه هغه امارتي اداري دي، چې د خپلو ټولو لګښتونو لپاره د مالیې وزارت څخه د ملي بودیجې د اصولو په رڼا کي بودیجه ترلاسه کوي او عواید ئې د مالیې وزارت واحد حساب (بیت المال) ته راځي، دا چې د بودیجې جوړونه او هغې ته د مالي امکاناتو برابرول د مالیې وزارت له مهمو او کلیدي دندو څخه دي؛ نو په همدې اساس د مالیې وزارت هغو بودیجوي واحدونو ته، چې عواید لري د مالي كال له پیل څخه تر مخه د عوایدو راټولولو هدف ورکوي، چې د مالي کال تر پایه ټاکلې اندازه عواید راټول کړي. په دغه پروسه کي بیا د اړوندو ادارو ټول کارکوونکي په پوره اخلاص او ايمانداری کار کوي؛ ترڅو وکولای سي خپله موخه ترلاسه کړي.
ټول بودیجوي واحدونه د مالیې وزارت سره په همغږۍ، په منظم او شفاف ډول عواید راټولوي او بیت المال ته ئې سپاري، هیڅ بودیجوي واحد نسي کولای، چې د خپلو عوایدو څخه د مالیې وزارت له پلان او پالیسۍ پرته مصرف وکړي. اوسمهال د مالیې وزارت (۵۱) بودیجوي واحدونه لري، چې د بودیجې د لګښتونو او عوایدو څخه ئې څارنه هم د همدغه وزارت په غاړه ده.
په دوهم ګام کي بیا غیر بودیجوي واحدونه دي: هغه امارتي اداري دي، چې خپل پراختیایي او عادي لګښتونه له خپلو عوایدو څخه برابروي، غیر بودیجوي واحد ګڼل کېږي، دغه واحدونه د عوایدو په راټولولو او مصروفولو کي د مالیې وزارت څخه خپلواك دي؛ خو د نظام په کچه نوري داسي اداري سته، چې هغه بیا د دوی له عوایدو او مصارفو څخه دوامداره څارنه کوي.
د غیر بودیجوي واحدونو په ډله کي (د افغانستان بانک، امارتي بانکونه، د مرکز او ولایتونو ښاروالی او دولتي شرکتونه) شامل دي.

درنښت
اداره

## د کندوز سپین زر دولتي شرکت تولیدات د غوړېدا په لور



د مالیې وزارت اړوند د کندوز سپین زر دولتي شرکت چې د مالوچو (الیاف)، لینتر سوې پنبه، د زغر غوړي، کونجارې او صابون د تولید په برخه کي فعالیت کوي، د ډېرو ستونزو له امله د تېرو څو کلونو راهیسي له فعالیته لوېدلی وو، د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته د مالیې وزارت رهبرۍ دولتي شرکتونو ته د ځانګړي پاملرني له امله د عایداتي سرچینو په توګه کار پیل کړ، چې سلګونو کسانو ته ئې د کار زمینه برابره کړې او همدارنګه توانېدلي، چې د پام وړ لاسته راوړنو ته ورسېږي.
دغه شرکت د ماشینونو د ترمیم او بیا رغوني تر څنګ، د نوښتونو او هڅو په لړ کي په ملي ستنډرډ، لابراتواري او معیاري تجزیې مالوچ (الیاف)، لینتر سوې پنبه، د کالیو مینځلو صابون او د زغر غوړیو په تولیدولو او د دغه شرکت د محصولاتو د خرڅلاو پلورنځي په جوړولو سره توانېدلی، چې په یوه کال کي د یخي تولیدي فابریکې، چې په (۲۴) ساعتونو کي د (۱۲۶۰) کوندو یخي د تولید ظرفیت لري، د کاغذي دستمال تولیدي فابریکه، چې په (۲۴) ساعتونو او درې شیفټونو کي (۲۰۰) دوه لایه کاغذي دسمالونو (۵۰۰۰) قوطیو، د (۱۰۰) دوه لایه کاغذي دسمالونو (۱۰۰۰۰) قوطیو، د (۵۰) دوه لایه کاغذي دسمالونو (۲۰۰۰۰) قوطیو او د پخلنځي (۲۲۰۰) کاغذي رولونو د تولید ظرفیت لري، چې په یوه کاري شیفټ کي د (۲،۳) او (۵) لیټره غوړیو (۱۲۰۰) پلاستیکي بوتلونو د تولید ظرفیت درلودونکی دئ، رامنځته کړي.
همدارنګه دغه شرکت په جدي او اغېزمنو هڅو سره په دې توانیدلی، چې د دغه شرکت د ملکیت (۲۹۰۰) جریبه غصب سوې ځمکه بیرته راوګرځوي او (۹۵) سلنه کوچني او لوی (سوداګریز، استوګنیز او د کرنیزو ځمکو) ملکیتونه په قرارداد ورکړي.
له بلې خوا د کندوز سپین زر دولتي شرکت د (۱۴۰۰ او ۱۴۰۱ل) کلونو طلبات ترلاسه کول، د یاد سوي شرکت د پالیسۍ له مخي د بېلابېلو نباتاتو د ځېړني او ننداري، د سبزیجاتو، د قوریې او ګل خونو رامنځته کول او ازبکستان هیواد ته د هغو د کرنیزو محصولاتو صادرولو او اروپایي او آسیایي هیوادنو ته د وچو رومیانو، د زردالو د کیشتو او تازه میوو د صادرولو چاري ترسره کړي دي. همدارنګه د جینو پریس د غوړیو ایستلو فابریکې د څرخې فعالول، د تخار ولایت د (قلعه مامه ای) او د کندوز ولایت د (قلعه ذال) ولسوالۍ د ظلم آباد د کانال او برقي بټۍ پروژه، د آبدان دښتي په (۱۰۰۰۰) هکتاره ځمکه باندي د ګل آفتاب پرست (لمر ګلي) د کښت طرحه او نوري بېلابېلي طرحي د پلان جوړوني په برخه کي د دغه شرکت له لاسته راوړنو څخه یادي کړو.
د یادوني وړ ده، چې د کندوز سپین زر دولتي شرکت د کندوز ولایت په شمال ختیځ زون کي موقعیت لري، چې په (۱۳۱۴ل) کال کي د شمالي شرکت په نوم ونومول سو، په (۱۳۲۵ل) کال کي د ملي بانك په نوم، په (۱۳۲۹ل) کال کي د نساجۍ شرکت په نوم، په (۱۳۳۵) کال کي (د پنبه دانې د اتحادیې) په نوم او په (۱۳۳۹ل) کال کي (د کندوز سپین زر) شرکت په نامه نومول سوی دئ. له (۱۳۶۲ل) کال څخه تر (۱۳۹۹ل) پوري ئې د تصدۍ د قانون په چوکاټ کي د یوې انتفاعي دولتي تصدۍ په توګه فعالیت کاوه او وروسته بیا له تصدۍ څخه په دولتي شرکت د نوموړي د حقوقي شخصیت د بدلون طی مراحل په (۱۴۰۰ل) کال بشپړ سول.

## د افغان طيور دولتي شرکت په روان مالي کال کي د پام وړ پرمختګ کړی دئ

د مالیې وزارت اړوند د افغان طیور دولتي شرکت د روان (۱۴۰۲ل) مالي کال په لومړنیو څلورو میاشتو کي د یو لړ مثبتو اداري او مسلکي بدلونونو په پایله کي د پام وړ پرمختګ کړی دئ. دغه شرکت د (۲۵۰۰) تنو په اغېزمن ظرفیت سره د سړو خونو د بنسټونو په بیا رغولو خپلو زېربناوو ته د پام وړ وده ورکړې ده.
د افغان طیور دولتي شرکت په لومړي ځل د خپلو فعالیتونو، کړنلارو او پلانونو په تړاو د یوې جامع طرحي په ترتیبولو سره خپل فعالیتونه له سره پیل کړي، چې د پام وړ پرمختګ ئې کړی دئ.
دغه شرکت د مدیریت د فعاله کړنلاري په مټ د مرکزي دفتر د بیا رغوني او ساتني ترڅنګ په ننګرهار ولایت کي یو فرعي دفتر پرانیست، چې ختیځو سیمو ورته اړتیا درلوده.
دا پراختیا د پېرودونکو له پاره په زیاته کچه د خدمت کولو او د نوي بازار موندني لپاره د شرکت ژمنتیا ښیي.
د شرکت اوږدمهاله لید د ستراتیژیکو پلانونو، سوداګریزو پلانونو، تدارکاتي پلانونو او د عملي چارو په پراختیا کي څرګند دئ، چې پر بنسټ به ئې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د شرکت فعالیتونه ترسره کېږي.
د بازار موندني په برخه کي د افغان طیور شرکت په پلازمېنه او د فعالیت اړوند سیمو کي د محصولاتو او خدماتو په تړاو، اعلانونه، کمپاین او د پوهاوي فعالیتونه ترسره کړي، چې په پایله کي ئې په کابل او ننګرهار کي د چرګانو له سوداګرو سره همغږي رامنځته سوې ده.
سربېره پر دې، یاد شرکت د مختلفو وزارتونو لکه، مالیې وزارت، روغتیا وزارت، اقتصاد وزارت، دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت سره د چرګانو او نورو حلالو غوښو د رسمي قراردادونو د رامنځته کولو لپاره رسمي وړاندیزونه کړي. دا تړونونه به نه یوازي د شرکت اعتبار ته وده ورکړي؛ بلکي په یاد صنعت کي به د شرکت دریځ پیاوړی کړي. همدا ډول د شرکت له لوري د هیواد په کچه د حلال سند د امتیاز تر لاسه کولو او د پولټري لپاره د مسلکي (٦) میاشتنۍ ډیپلومې د پیلولو رسمي وړاندیز سوی دئ.
همدا راز، د افغان طیور دولتي شرکت په هیواد کي د طیور صنعت او د شرکت د فعالیتونو د ودي په موخه د (AREM) آلمان د سوداګرۍ اتحادیې سره د نږدې (۰،٤) ملیونه ډالرو په ارزښت تړون لاسلیك کړی دئ.
په ټولیزه توګه، په تېرو څلورو میاشتو کي د افغان طیور دولتي شرکت د ودي، موثریت او همکارۍ په برخه کي د زېربناوو په پراختیا، ستراتیژیك پلان جوړونه، بازار موندنه، د برخه اخیستونکو په ښکیلتیا باندي تمرکز، د چرګانو د بریالۍ تصدۍ جوړولو لپاره د شرکت هر اړخیزه اقتصادي چلند او پوره ژمنتیا څرګندوي او په دې برخو کي کوټلي ګامونه پورته سوي دي.
د یادوني وړ ده، چې په دغه شرکت کي رامنځته سوي مثبت بدلونونه به په هیواد کي د چرګانو د محصولاتو، درملو او واکسینونو د ودي، اغېزمني ساتني او وېش په برخه کي ګټوري پایلي ولري او ولس ته د کاري فرصتونو د رامنځته کولو تر څنګ به د ملي بودیجې په تمویل کي رغنده رول ادا کړي.




د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معینیت د شکایتونو اورېدلو ریاست لپاره نوی رئیس معرفي سو

م ۲



برنامه آموزشی قوانین مالیات بر عایدات برای کارمندان ریاست مالیه دهندګان کوچک دایر ګردید

م ۲



ریاست انسجام و انکشاف عواید ولایات با مسئولین مستوفیت های کشور نشست آنلاین کرد

م ۲




دولتي شرکتونه څرنګه راپورته او مدیریت کړو؟

م ۲



د عامه پانګوني مدیریت ریاست پېژندنه

م ۳




Products of Kunduz Spinzar SOC on Rise

م ٤

# د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معینیت د شکایتونو اورېدلو ریاست لپاره نوی رئیس معرفي سو

د گمرکونو او عوایدو محترم معین ښاغلي ملا عبدالقاهر «ادریس» په هغه غونډه کي، چي د گمرکونو محترم رئیس صاحب، د عوایدو لوی ریاست مرستیالانو، رئیسانو او آمرینو هم حضور درلود، ښاغلی مولوي عبدالحنان «عارف الله» د دغه معینیت د شکایتونو اورېدلو ریاست لپاره د نوي رئیس په توگه معرفی کړ. د گمرکونو او عوایدو محترم معین ښاغلي ملا عبدالقاهر «ادریس» چي دغه پېژند ناستي ته ئې وینا کوله وویل: «د مشرانو له خوا چي کوم مسؤلیتونه موږ او تاسو ته را سپارل کېږي، موږ مکلف یو، چي دغه مسؤلیتونه په ښه توگه اجراء او خلکو ته ځواب ویونکي و اوسو.» نوموړي همدارنگه زیاته کړه، چي شته نظام د ولس په همکاری منځته راغلی دئ؛ نو موږ او تاسو ته لازمه ده، چي اوس د همدې ولس قدر او ښه خدمت وکړو او له ټولو ئې وغوښتل، چي له ولس سره نېک چلند وکړي.

د یادوني وړ ده، چي د دغه ریاست پخوانی رئیس مولوي عبیدالله «ابو احمد» د مالیې وزارت د مقام د فتر رئیس په توگه گومارل سوی دئ.




# برنامه آموزشی قوانین مالیات بر عایدات برای کارمندان ریاست مالیه دهندگان کوچک دایر گردید

ریاست منابع بشری به همکاری ریاست عمومی عواید وزارت مالیه برنامه آموزشی شش روزه قوانین مالیات برعایدات و طرزالعمل های مربوطه را برای کارمندان ریاست مالیه دهندگان کوچک دایر نمود. در نشست که به همین مناسب در تالار کنفرانس های اکادمی ملی عواید و گمرکات بر گزار شده بود، مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری وزارت مالیه، حافظ شاه حسین حسینی، معاون حمایوی ریاست عمومی عواید و شماری دیگر از مسئولین این ریاست اشتراک داشتند. مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، شما کارمندان این نظام اسلامی دو مسئولیت دارید، یکی مسئولیت مسلکی و دیگر مسئولیت دینی. مسئولیت مسلکی خویش را با




استفاده از این برنامه تلاش کنید با کسب و فراگیری دانش مسلکی، ظرفیت خود را انکشاف داده و حق بست را که اشغال کرده اید به خوبی اداء کنید. مسئولیت دینی شما، خدمت به این نظام مقدس و برآورده کردن آرمانهای شهدا با ایمانداری، صداقت و تعهد است.

حافظ شاه حسین حسینی، معاون حمایوی ریاست عمومی عواید گفت، خداوند تمام مخلوقات را برای عبادت کردن خویش آفریده است. عبادت انواع گوناگون دارد و کار و کسب نفقه حلال هم از جمله عبادات است. کار و امرار معاش بالخصوص در این نظام اسلامی توام با اطاعت پذیری از مافوق و وقت شناسی عبادت است. ولی کار در این نظام مستلزم کسب آگاهی و انکشاف ظرفیت های است که باید مورد توجه قرار داد. اگر ظرفیت خود را ارتقاء دهید، می توانید حق و باطل، حلال و حرام را تشخیص داده و کار خود را به وجه احسن انجام دهید.

این نشست با دعاییه ای اختتام و دروس رسماً آغاز گردید.

# ریاست انسجام و انکشاف عواید ولایات با مسئولین مستوفیت های کشور نشست آنلاین کرد

تحت ریاست محترم حافظ خلیل احمد ابولاحسان معاون عملیاتی و کفیل ریاست عمومی عواید و اشتراک محترم انجنیر عبدالله حیدری رئیس انسجام و انکشاف عواید ولایات، نمایندگان ریاست های عواید غیرمالیاتی، سیستم عواید، خدمات حقوقی و پالیسی عواید، تحقیق، پلان و نظارت عواید، نمایندگان معینیت های اداری و مالی وزارت مالیه و مسئولین مستوفیت های کشور نشست آنلاین تدویر یافت.



در این نشست روی جمع آوری سیستماتیک و شفاف عواید، تحقق اهداف عوایدی، مصرف بودجه سال جاری و پلان بودجه سال آینده، مشکلات و پیشنهادات مستوفیت ها بحث و تبادل نظر صورت گرفت. مسئولین مستوفیت های کشور موفقیت و دست آوردهای خود را نتیجه اطاعت پذیری، پابندی به تعهدات و ایفای صادقانه وظایف سپرده شده خویش دانستند.

# د نیمروز گمرک د گرځنده څارني کارکوونکو قاچاقي پلاستیکي بوجۍ او ککو نیولي

د نیمروز گمرک د گرځنده څارني کارکوونکو د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کي (۱۱۵۲) کیلو گرامه ککو او (٤۲۰) کیلو گرامه پاکستانی پلاستیکي رول بوجۍ، چي قاچاقچیانو غوښتل په قاچاقي ډول ئې هیواد ته را وارد کړي کشف او ونیولې. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره د نیمروز گمرک د پلټني مسؤلینو ته سپارل سوي.

# د ننگرهار او نیمروز گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکو بېلابېل قاچاقي توکي نیولي



د ننگرهار او نیمروز گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکو د یادو ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي (٤۰) کیلو گرامه پاکستاني انساني درمل، (۲۱) کیلو گرامه د غاښونو طبي مواد، (۱۰۲۰) کیلو گرامه ککو او (۹٦۰) کیلو گرامه رُب، چي قاچاقچیانو غوښتل په قاچاقي ډول ئې هیواد ته وارد کړي ونیول. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره د ننگرهار او نیمروز گمرکونو ته سپارل سوي دي.

# د اسیکوډا په سیستم کي د بیې اینښودني کوډونه معیاري سوي دي

د مالیې وزارت د رهبرۍ له لوري له فساد سره د جدي مبارزي په لړ کي، د گمرکونو لوی ریاست هم په ټولو گمرکونو کي د فساد عواملو له منځته وړل په خپلو کاري لومړیتوبونو کي شامل کړي دي. پر همدې بنسټ، د مالیې وزارت له لوري ټولو کورنیو او بهرنیو پانگوالو او سوداگرو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو او د ملي عوایدو له تېښتي څخه د مخنیوي په موخه، د گمرکونو لوی ریاست د اسیکوډا په سیستم کي د سوداگریزو توکو بیې معیاري کړي دي. پخوا د اسیکوډا په سیستم کي د توکو بیې په غیر معیاري توگه ثبت سوي وې او د بیې اینښودني لپاره بېلابېلو سوداگریزو توکو ته په لسگونه قیمتونه ټاکل سوي ول، چي د یو جنس لپاره د څو کوډونو شتون له یوې خوا فساد ته زمینه برابروله او له بل لوري د ملي عوایدو د ضایع کېدو سبب گرځېدل.

د گمرکونو لوی ریاست اړوند د بیې اینښودني ریاست، د سوداگریزو توکو لپاره د لسگونو کوډونو پر ځای محدود کوډونه جوړ او اضافي کوډونه ئې لیري کړل، همدا شان د سوداگرو ترمنځ د سالم رقابت او سوداگرۍ د ودې په موخه، د بیې اینښودني هغه سلگونه کوډونه، چي له تعرفوي کوډونو سره په ټکر کي جوړ سوي ول، له منځه یو وړل سول. د اسیکوډا په سیستم کي د بیې اینښودني کوډونو له اصلاح او معیاري کولو سره، اوسمهال په گمرکي طي مراحلو کي د پخوا په پرتله روڼتیا او لازمه چټکتیا رامنځته سوې او د عوایدو له تېښتي څخه مخنیوی هم ټیټي کچې ته را رسېدلی دئ. د بیې اینښودني ریاست همدا راز د سوداگرو لپاره د اسانتیا او د هغوی د چارو د سرعت په موخه په ولایتي گمرکونو کي د بیې اینښودني او تعرفې مدیریت فعاله څانگي لري، چي په اړوندو برخو کي د سوداگرو اسناد په انلاین بڼه له مرکز سره شریک او پر وخت طي مراحلوي. دا په داسي حال کي ده، چي د اسیکوډا په سیستم کې د جوړو سوو کوډونو د سمون او څارني په موخه یوه تخنیکي کمېټه هم جوړه سوې ده، چي په دوامداره توگه په دې برخه کي خپلو کارونو ته دوام ورکوي او تر دې دمه ئې د تعرفې شل فصلونه، چي (۲۲۵) تعرفوي کوډونه کېږي، د قیمت اینښودني ماډیول سره سمون ورکړی دئ.

د یادوني وړ ده، چي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له فرمان سره سم، د هیواد په گمرکونو کي سوداگرو ته اسانتیاوي رامنځته کول د مالیې وزارت له لومړیتوبونو څخه دي او په دې برخه کي د فساد د ټولو عواملو د له منځه وړلو او روڼتیا رامنځته کولو په موخه اړین اقدامات ترسره سوي دي.

# دولتي شرکتونه څرنگه راپورته او مدیریت کړو؟

استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بودیجې اجرائیوي رئیس

دولتي شرکتونه د هیوادونو په اقتصادي وده، په ځانگړي ډول د افغانستان په اقتصادي وده، بشپړ استخدام، د خدماتو په وړاندي کولو او د ملي بودیجې په تمویل کي رغنده رول لري. له نن څخه څو لسیزي وړاندي دولتي شرکتونو زموږ د ملي بودیجې لویه برخه تمویلوله؛ مگر له بده مرغه چي دا سلنه په دا وروستیو کلنو کي د نه پاملرني له امله خورا کمه او را ټیټه سوه، له ښه مرغه، چي د افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت سره سم د اقتصادي مجلسونو محوري موضوع دولتي شرکتونه سول، دولتي شرکتونو ته توجه تر بل هر وخت زیاته سوې ده، نهایت هڅه دا ده، چي دولت باید نه یوازي انتظامي؛ بلکي د دولتي شرکتونو په مټ په تشبثاتي فعالیتونو کي ونډه واخلي او له دې لاري د ولس د هوساینې، اقتصادي پرمختیا، اقتصادي ټېکاو، قیمتونو د کنټرول، عوضي تولیداتو او د داخلي تولیداتو د ملاتړ په موخه حمایوي سیاست وکاروي او د یادو چارو لپاره دولتي شرکتونه تر ټولو ښه بدیل کېدلای سي. د دې لپاره، چي پورته یادي سوي موخي مو په مؤثره او مثمره توگه لاسته راوړي وي، اړتیا ده، چي دولتي شرکتونه په درست شکل مدیریت سي، د دولتي شرکتونو د وضعیت د ښه والي لپاره اړینه ده، چي لاندي اړین او لومړني گامونه واخیستل سي:

**•دولتي شرکتونه باید له سره پنځه کلن جامع ستراتیژیک پلانونه تدوین او ترتیب کړي:** د ستراتیژیکو اهدافو ټاکلو، د هغوی تعقیب او لاسته راوړلو لپاره جدي اړتیا ده، چي پنځه کلن ستراتیژیک پلانونه ژر تر ژره ورته جوړ سي، ستراتیژیک وضعیت تحلیل سي، پیاوړي او کمزوري تهدیدات او راتلونکي فرصتونه ئې تحلیل سي، وضعیت ته په کتو لازمي او منظمي ستراتیژۍ ورته جوړي سي.

• **منظمي پالیسۍ جوړي کړي:** د دې لپاره، چي سمدستي یا په لنډ مهال کي د دولتي شرکتونو وضعیت مثبت لوري ته سوق سي، اړینه ده، چي لنډ مهالي پالیسي ترتیب او تدوین سي.




• **داخلي ظرفیت لوړونه:** دولتي شرکتونو کي څو لسیزي مخکي او نن هم جدي اړتیا ده، چي د کارکوونکو ظرفیت ئې لوړ سي، په لوړو مدیریتي، رهبري او تخنیکي مهارتونو ئې باید کارکوونکي سمبال سي.

• **د برېښنا ټولي اسانتیاوي باید ورته برابرې سي:** دولتي شرکتونه او ټولي تولیدي خوني برېښنا ته جدي اړتیا لري، برېښنا د چارو د ترسراوي لپاره اړینه ده، دا بیا امکاناتو ته په کتو که لمریزه وي او یا وارداتي وي؛ خو باید د برېښنا اسانتیا ورته برابره سي.

• **په جامع او لویو طرحو باندي باید کار ورته وسي:** په سوداگریزه، عمراني، مالي او نورو اړینو برخو کي اړتیا لیدل کېږي، چي متخصص طراحان جامع او امکاناتو ته په کتو طرحي ترتیب کړي.

• **سیستم جوړونه:** زموږ د ډېرو دولتي شرکتونو سیستم اوس هم عنعنوي او پخوانی دئ ، اړتیا ده چي نوي برېښنایي سیستمونه پکښي پلی سي، په ټوله کي ئې د سیستم جوړوني برخه ډېره مهمه ده، یاده برخه جدي او څو چنده تېز کار غواړي.

• **د مثبتي سیالۍ فکر او انگېزه باید پکښي راژوندۍ سي:** د دې لپاره چي دولتي شرکتونه له فعلي رکودي حالت څخه راووځي، اړتیا لیدل کېږي؛ ترڅو سیالیزي ستراتیژۍ وکاروي او د نورو خصوصي شرکتونو په نسبت څو چنده چټک مزل وکړي.

• **نظام ئې باید له چارو اړین کنټرول تر سره کړي:** د دولتي شرکتونو د چارو د منظم کنټرول په له پاره اړتیا ده، چي درې ډوله (لومړنی، منځنی ا و وروستی) کنټرول تر سره سي.

• **منظم سوداگریز پلانونه باید ورته جوړ سي:** د سوداگریزو پلانونو شتون د شرکتونو د اوږدمهاله ژوند، اهدافو د تحقق او لازمو انتفاعي اهدافو لپاره مبرمه اړتیا ده.

• **مارکېټینگ برخي ته ئې باید کار وسي:** زموږ د ډېری دولتي شرکتونو له خدماتو څخه یوازي کارکوونکي او نږدې اوسېدونکي مالومات لري، د دې لپاره چي د خدماتو پوښښ ئې زیات سي، د بازار موندني جدي اړتیا محسوسېږي.

• **مالي راپورونه ئې باید دقیق ترتیب سي:** ممکن اوس مهال ځیني شرکتونه دقیق مالي راپورونه ولري؛ خو د دې لپاره، چي په بازار کي ئې اوږدمهاله ژوند تضمین سي؛ نو (Financial statements) ئې باید دقیق او واقع بینانه ترتیب سي، مالي نسبتونه ئې باید دقیق و ارزول سي؛ تر څو ئې په اړه تصمیم نیونه اسانه او بقاء ئې تضمین سي.

• **په ځینو برخو کي باید لا عوضه مرستي ورسره وسي:** اړتیا لیدل کېږي، چي اقتصادي وضعیت او امکاناتو ته په کتو له سبسایډیو څخه گټه پورته سي؛ تر څو زموږ دولتي شرکتونه د گاونډیو هیوادونو له سترو شرکتونو سره د سیالۍ وړتیا او ذمه پیدا کړي.

• **دولت باید ځیني حمایوي اقتصادي سیاستونه تطبیق کړي:** د دې لپاره، چي داخلي تولیداتو ته مو بازار موندلی وي او د عوضي اجناسو د ورود مخنیوی مو کړی وي، اړتیا ده، چي پر ټولو عوضي اجناسو گمرکي تعرفه لوړه سي.

SHTAMANI
اوونیزه

# د عامه پانګوني مدیریت ریاست پېژندنه

د عامـه پانګـوني مدیریـت ریاسـت د نړیـوال بانـک پـه غوښـتنه او ملاتـړ د افغانسـتان د عامـه پانګـوني چـارو د تنظیـم پـه موخـه د مالیـې وزارت د پالیسـۍ معینیـت پـه چـوکاټ کـي پـه (۱۳۹۸) هجـری لمریـز کال کـي رامنځتـه سـوی. د عامـه پانګـوني د مدیریـت پروسـه د هیـواد پراختیایـي اړتیـاوو د پېژنـدني، د دې اړتیـاوو د حـل لارو موندـني او ارزوني، د هیـواد محـدودو مـالي سرچینـو او امکاناتـو تخصیـص، هغـو عامـه پانګونـو تـه، چـي تـر ټولـو لـوړ مـالي او اقتصـادي مؤثریـت لـري، د پـلان، پـلي کولـو او ګټـي اخیسـتني پـه پړاوونـو کـي شـاملېږي. د عامـه پانګـوني د مدیریـت ریاسـت، چـي د دې پروسـې د تنظیـم پـه برخـه کـي خـورا مهـم رول لـري، پـه هیـواد کـي د اقتصـادي ودي د چټکتیـا، متـوازني پراختیـا، د ګومـارني د سـطحي لوړولـو، د ښـو عامـه خدمتونـو وړانـدي کولـو او د مـلي پراختیایـي پروګرامونـو د هدفونـو لاسـته راوړلـو پـه موخـه د لویـو او کوچنیـو پراختیایـي پـروژو او پراختیایـي پروګرامونـو تحلیـل، ارزوني او د لومړیتـوب ورکـوني لـه پـلي کېـدو څخـه وړانـدي مرحلـه کـي تـرسره کـوي. دا ریاسـت هـر کال د عامـه پانګـوني د متحدالمـال پـه صادرولـو سره د بودیجـوي واحدونـو څخـه پراختیایـي پـروژې ترلاسـه او لـه هـر اړخیـزي شنني او ارزوني وروسـته د تطبیـق وړ پـروژې، لـه ناکامـه پـروژو څخـه جـلا او بیـا د تطبیـق وړ پـروژې د اقتصـادي او مـالي مؤثریـت لرلـو او د افغانسـتان اسـلامي امـارت د پراختیایـي لومړیتوبونـو پـه نظـر کـي نیولـو سره لومړیتـوب ورکـوي او د مـلي بودیجـې پـه سـند کـي د شـمولیت پـه موخـه ئـې د مـلي بودیجـې لـوی ریاسـت او د بودیجـې اسـتماعیه کمېټـې تـه راجـع کـوي.

**د افغانستان اسلامي امارت له فتحي وروسته د عامه پانګوني د مدیریت ریاست لاسته راوړني:**

د افغانسـتان اسـلامي امـارت لـه فتحـي وروسـته د حالاتـو اړتیـا تـه پـه کتـو د عامـه پانګـوني مدیریـت ریاسـت د پالیسـۍ معینیـت رهـبرۍ لـه هدایـت سره سـم خپـل پـام بیړنیـو او غیـر پـلان سـویو چـارو تـه واړاوه، د یـادو بیړنیـو کړنـو ترڅنـګ دا ریاسـت د اسـلامی امـارت لـه فتحـي څخـه تـر اوسـه لانـدي د پـام وړ لاسـته راوړني لـري:

**لـه پـلان سره سـم د عامـه پانګـوني ریاسـت د ۱۴۰۱ کال لاسـته راوړني:**

• د عامـه پانګـوني د مدیریـت ریاسـت د دې ریاسـت د متحدالمـال پـه صادرولـو سره لـه بودیجـوي واحدونـو څخـه پـه (۱۴۰۱ل) مـالي کال کـي د (۱۴۰۲ل) بودیجـوي کال لپـاره (۳۲۰) پـروژې ترلاسـه کـړي دي، چـي لـه هـر اړخیـزو شـننو او ارزونـو وروسـته لـه دې پـروژو څخـه (۸٦) پـروژې، چـي د اقتصـادي او مـالي موثریـت پـه لرلـو سره د افغانسـتان د اسـلامی امـارت لـه پراختیایـي لومړیتوبونـو سره پـه مطابقـت د تطبیـق وړ پـروژو پـه توګـه انتخـاب او د مـلي بودیجـې پـه سـند کـي د شـمولیت پـه موخـه د مـلي بودیجـې لـوی ریاسـت تـه اسـتول سـوي.



**له پلان څخه بهر د عامه پانګوني ریاست د ۱۴۰۱ کال لاسته راوړني:**

**الف: د بودیجوي واحدونو د اقتصادي طرحو شننه او ارزونه:**

۱. د ټرانسپورټ وزارت د واټونو، تم ځایونو، ترمینالونو او نقلیه وسایطو د فعالیتونو د تنظیم او مدیریت د طرحو شننه او ارزونه؛

۲. د حج او اوقافو وزارت د وقفي عایداتو د مصرفولو د طرحي شننه او ارزونه؛

۳. د پروسیس په موخه بهر ته د سرو زرو صادرولو د طرحي شننه او ارزونه؛

٤. د احصایې او معلوماتو د (۵۰) پایو جنراټورونو د طرحي شننه او ارزونه؛

۵. په ټول هیواد کي د اوبو لګولو او اوبو رسولو د کوچنیو او منځنیو پروژو تحلیل او ارزونه؛

٦. د پوهني وزارت پروژې تحلیل او ارزونه.

**ب: د نړیوال بانک د پروژو شننه او ارزونه:**

۱. د CRL (Community Resilience livelihood) پروژې شننه او ارزونه؛

۲. د NGOs/CSOs د ظرفیت لوړولو پروژې شننه او ارزونه.

**ج: د خصوصي سکټور د سوداګریزو طرحو شننه او ارزونه:**

۱. هیواد ته د (۵۰۰۰) پنځه زره ټنه مازود تېلو واردولو د طرحي ارزونه؛

۲. د کابل ښاروالۍ په دوهمه ناحیه کي د حبیب جلال سوداګریز مرکز ساختماني پروژې اقتصادي شننه او ارزونه؛

۳. د کابل ښاروالۍ په دوهمه ناحیه کي د حامد افغان سوداګریز مرکز د ساختماني طرحي اقتصادي شننه او ارزونه؛

٤. د پروان ولایت په سل هکتاره ځمکه کي، چي د دولت ملکیت دئ، د هلمند سوداګریز شرکت له خوا د مرمرو د یوې فابریکې جوړولو د طرحي اقتصادي شننه او ارزونه؛

۵. د افغانستان د وچي مېوې د نمونې اخیستو، د بازار موندني او نندارتون د مرکز جوړولو پروژې اقتصادي شننه او ارزونه، چي د کابل ښاروالۍ د ملکیت اړوند په لومړۍ ناحیه کي موقعیت لري؛

٦. د کابل ښاروالۍ د ملکیت اړوند د (نهمي ناحیې) په مربوطاتو کي د مکروریانو پلازو د جوړولو د وړاندیز تحلیل او اقتصادي ارزونه؛

۷. د نوشیروان شرکت د تجارتي طرحي اقتصادي شننه او ارزونه؛

۸. د هدایت شمس پروژې اقتصادي شننه او ارزونه؛

۹. د کنړ ولایت د چارتراش لرګیو د طرحي تحلیل او ارزونه؛

۱۰. د استړاس دولتي شرکت د طرحي تحلیل او ارزونه.

**له پلان څخه بهر د عامه پانګوني ریاست د ۱۴۰۲ کال لاسته راوړني:**

**الف: د بودیجوي واحدونو د اقتصادي طرحو شننه او ارزونه:**

۱. د نږدې (۱۴۴) میلیارډه افغانیو په ارزښت د (۲۰) پراختیایي پروژو پېژندنه او لومړیتوب ورکول او د تمویل لپاره د چین له سفارت سره شریکول؛

۲. د اوبو لګولو د کوچنیو بندونو او برېښنا د (۴۲) پروژو اقتصادي شننه او ارزونه؛

۳. د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ګرځندوی ریاست د عایداتي طرحي اقتصادي شننه او ارزونه؛

٤. د سلطان ابراهیم بند شننه او ارزونه؛

۵. د کندهار ولایت د میرویس (۳۵۰) بستریز روغتون پروژې اقتصادي او مالي شننه او ارزونه؛

٦. د سرپل ولایت د شرقي لوري د حلقوي سړک پروژې شننه او ارزونه؛

۷. د کندهار- روزګان ولایت (۱۰۸) کیلومتره سړک پروژې اقتصادي شننه او ارزونه؛

**ب: د خصوصي سکټور سوداګریزو طرحو شننه او ارزونه:**

۱. د کابل په پغمان کي د پانګوني لپاره د ګایټ شرکت د طرحي اقتصادي شننه او ارزونه؛

۲. د هیواد په ګمرکي بندرونو کي د پانګوني د ونډې اخیستني په برخه کي د زبیر صوفي زاده شرکت د پروپوزل اقتصادي شننه او ارزونه؛

۳. په انټرکانټینینټل هوټل کي د پانګوني لپاره د (GTR) شرکت د پروپوزل اقتصادي شننه او ارزونه.

٤. د کابل مسکو سوداګریز شرکت له لوري د ډبروسکرو حرارتي برېښنا د تولید (۸۰) فابریکو جوړولو د پروپوزل شننه او ارزونه؛

۵. د زاسو ګروپ کمپنۍ له لوري د کاسا (۱۰۰۰) پروژو اړوندو برخو کي د پانګوني د پروپوزل شننه او ارزونه؛

د پالیسۍ معینیت اړوند د عامه پانګوني مدیریت ریاست په ډېرو نورو برخو کي ګټې لاسته راوړني لري، موږ به د ځای د کمښت له کبله نور او بشپړ معلومات د یوه کال لاسته راوړنو په مهالنۍ مجله کي خپاره کړو.


# اعلانات داوطلبی

**د کابل ولایت (۴) مي ناحیې اړوند د یو باب مغازې او کانټینرونو د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیـې وزارت د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت غـواړي، چـي د کابـل ولایـت (۴) مـي ناحیـه اړونـد پـه کارت آریانـا ( قـوای مرکـز) کـي د یـو بـاب مغـازې او کانټینرونو چـي (۲۲۹۰.٦۳) مـتره مربع مسـاحت لـري د داوطلبـۍ لپـاره اعـلان تـه وسـپاري. ټـول هغـه حکمـي او حقیقـي اشـخاص، چـي غـواړي نومـوړی ملکیـت پـه کرایـه ونیـسي کـولای سي خپـل غوښـتنلیکونه د اعـلان لـه خپرېـدو څخـه وروسـته د (۲۱) ورځـو پـه مـوده کـي د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت تـه وسـپاري او د یـاد سـوي ملکیـت شرطپانـه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کي ترلاسه کړي.

**د کابل ولایت (١٦) مي ناحیې اړوند د (۲) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیـې وزارت د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت غـواړي، چـي د کابـل ولایـت (١٦) مـي ناحیـې اړونـد نسـاجي بګرامـي کـي (۲) دولتـي ملکیتونـه پـه جـلا جـلا ډول د داوطلبـۍ لپـاره اعـلان تـه وسـپاري. الـف: نسـاجي بګرامـي سره (۱) شـمېره ځمکـه، چـي (۹۵۱۲) مـتره مربـع مسـاحت لـري. ب: نسـاجي بګرامـي سره (۱۰) مـه شـمېره ځمکـه، چـي (۲۰۸) مـتره مربـع مسـاحت لـري. ټـول هغـه حکمـي او حقیقـي اشـخاص، چـي غـواړي نومـوړی ملکیـت پـه کرایـه ونیـسي کـولای سي خپـل غوښـتنلیکونه د اعـلان لـه خپرېـدو څخـه وروسـته د (۲۱) ورځـو پـه مـوده کـي د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت تـه وسـپاري او د یـاد سـوي ملکیـت شرطپانـه د اسـنادو لـه ارزوني او لومـړني قیمـت تـه پـه کتو تر لاسـه کړي.

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد**

بدینوسـیله بـه تاسـی از فقـره (۲) مـاده چهـل و سـوم قانـون تـدارکات بـه اطـلاع عمـوم رسـانیده میشـود، اینکـه وزارت مالیه امـارت اسـلامی افغانسـتان در نظـر دارد، (پـروژه تـدارک ۱۲۰ پایـه میـز و چوکـی ریاسـت خدمـات مالیـه دهنـدګان) دارای نمـبر قـرارداد ( Rebid-۰۵۸-G/۱٤۰۲/MOF ) را بـا شرکـت فیصـل بزنـس فرنیچـر لمیتـد دارنـده جـواز نمـبر۱۹۵۳۸-۰۱۰۱ (۱۹۵۳۸-۰۱۰۱) بـه قیمـت مجموعی مبلـغ (۷۸۸،٤۰۰) هفتصدو هشـتادو هشـت هـزار و چهارصـد افغانـی عقـد قـرارداد نمایـد. اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه هرګونـه اعـتراض در زمینـه داشـته باشـند میتوانـد اعـتراض خویـش را از تاریـخ نـشر ایـن اعـلان الـی (۷) روز تقویمـی طـور کتبـی تـوام بـا دلایـل آن بـه وزارت مالیـه امـارت اسـلامی افغانسـتان واقـع پشتونسـتان وات - کابـل ارائـه نمایـد. ایـن اطلاعیه بـه معنی عقد قرارداد نبوده و الـی تکمیل میعاد فوق الذکـر و طی مراحـل قانونی بعدی، قـرارداد منعقد نخواهد شـد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

**د کابل ولایت (١٦) مي ناحیې اړوند د دوو دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیـې وزارت د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت غـواړي، چـي د کابـل ولایـت (١٦) مـي ناحیـې اړونـد د نسـاجي بګرامـي پـه داخـل کـي دوه دولتـي ملکیتونـه پـه جـلا جـلا ډول د داوطلبـۍ لپـاره اعـلان تـه سـپاري. ۱. یـو بـاب نانوایـي سره د یـو بـاب اطـاق، چـي (٦۴،۷) مـتره مربـع مسـاحت لـري. ۲. یـو بـاب هنګـر سره د شـنې سـاحې چـې (٦۳۰) مـتره مربـع مسـاحت لـري. ټـول هغـه حکمـي او حقیقـي اشـخاص، چـي غـواړي نومـوړی ملکیـت پـه کرایـه ونیـسي کـولای سي خپـل غوښـتنلیکونه د اعـلان لـه خپرېـدو څخـه وروسـته د (۲۱) ورځـو پـه مـوده کـي د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت تـه وسـپاري او د یـاد سـوي ملکیـت شرطپانـه د (۳۰۰۰) افغانیـو پـه بـدل کـي ترلاسـه کـړي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبپاڼه: mof.gov.af
ټويټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# Frequent Attempts of Smugglers, Best Achievements of Mobile Surveillance Staff of Customs



Afghanistan has a common border with many neighboring countries, where smugglers' contrabands are smuggled into the country or exported out of Afghanistan, but in terms of siege and detection the braver mobile surveillance officials of customs overcome to prevent the contrabands; therefor, this is the reason that in the last two years, these employees have detected and seized thousands of kilograms of contrabands and have handed over the accused to the relevant investigative agencies of customs. Likewise, during the last week, the mobile surveillance staff of the customs has seized hundreds of pieces of contraband in some areas of Nimroz and Nangarhar provinces, and has handed over the accused persons and contrabands to the relevant customs inspection bodies. In these incidents, 1152kg of cocoa and 420kg of Pakistani plastic roll bags and also 18 tons of jaggery, 2350kg of sweets and 33 cartons of medicine were detected in the relevant areas of Nimroz province. Meanwhile, mobile surveillance staffs of Nangarhar province and Nimroz customs have detected and seized 40kg of Pakistani human medicine, 21kg of dental medical materials, 1020kg of cocoa and 960kg of tomato paste. Notably, the accused persons of this incident have also been handed over to the relevant investigative agencies and the seized items have been submitted to the customs officials.

# Afghan Poultry SOC Makes Significant Progress in Current Fiscal Year

Afghan Poultry SOC (State-owned Corporation) related to the Ministry of Finance (MoF) has made significant progress in the first four months of the current fiscal year 1402 Hijri as a result of a series of positive administrative and professional changes. The corporation has notably improved its infrastructure by renovating cold storage warehouse facilities with an effective capacity of 2,500 people. For the first time, Afghan Poultry SOC has resumed its activities by preparing a comprehensive plan regarding its activities, procedures and plans, which has made significant progress. The said corporation opened a subsidiary office in Nangarhar province along with the reconstruction and maintenance of the head office based on active management procedures, which the entire country and the eastern region need. This expansion demonstrates the SOC's commitment to serving a broader customer services and reaching new marketing. The long-term vision of the mentioned corporation is evident in the development of strategic plans, business plans, procurement plans and practical affairs, which the activities of corporation will be carried out for the next five years. In terms of marketing, Afghan Poultry SOC has fulfilled advertisements, campaigns and activities of awareness related to products and services in capital Kabul and related areas, which resulted in establishing cooperation with poultry traders in Kabul and Nangarhar. Additionally, the Afghan Poultry SOC has made official proposals to establish official contracts for chicken and other halal meats with various ministries such as the Finance, Health, Economy, Defense and Ministry of Interior Affairs. These contracts will not only enhance the credibility of the corporation, but it will also strengthen the position of



this corporation in the mentioned industry. Similarly, the SOC has made an official proposal to obtain the privilege of having "Halal certificate" at the nationwide and to incept a professional 6-month diploma for poultry. Also, the Afghan Poultry SOC has inked an agreement worths nearly $0.4 million with the German trade association (AREM) in order to grow the poultry industry and the corporation's activities in the country. Generally, over the past four months, the focus of Afghan Poultry SOC on infrastructure development, strategic planning, marketing, stakeholder engagement, a successful poultry enterprise and the comprehensive economic behavior of the said corporation shows its full commitment and concrete paths have been built in these areas with this regard. It is merely worth noting that the positive changes made in this corporation will have beneficial consequences in the growth, effective protection and distribution of poultry products, medicines and vaccines in the country. Furthermore, the positive changes that may cause to create job opportunities for the people will also play a constructive role in financing the national budget.

# Products of Kunduz Spinzar SOC on Rise




The Kunduz Spinzar SOC (State-owned Corporation) related to MoF that operates in the production of cotton (fiber), linter cotton, linseed oil, sesame oil meal/ cotton seed oil cake and soap has been out of working for the past few years due to many problems. After the re-establishment of IEA and the special attention of the leadership of MoF to the state corporations, they started working as sources of income and provided employment to hundreds of people and also managed to gain significant achievements. In addition to repairing and rehabilitating machines, this SOC is involved in the production of national standard, laboratory and standard analysis cotton (fiber), linter cotton, laundry soap and linseed oil in the series of innovations and efforts, the products have been brought to ability to build a sales store, an ice factory in a year, which has the capacity to produce1260 ice pieces in 24 hours, a tissue paper production factory in 24 hours and three shifts 200 double tissue paper's 5000 boxes, 100 double-ply tissue paper's 10,000 boxes, 50 two-ply tissue paper's 20000 boxes and kitchen's 2200 paper. It also has the capacity to produce 1200 plastic bottles oil containing 2.3 and five liters of oil in one working shift. Also, with serious and effective efforts, this corporation has been brought to ability to return 2,900 acres (Jiribs) of seized land and 95% of small and large (commercial, residential and agricultural land) properties. On the other hand, The Kunduz Spinzar SOC received the orders of 1400 and 1401 Hijri years, according to the policy of the said corporation the following have been done as the research and exhibition of various plants, the creation of vegetable, garden and flower rooms and exporting of agricultural productions to Uzbekistan, and exportation of dried tomatoes, apricots and fresh fruits to European and Asian countries. In addition, the activation of the Genopress or state-owned oil extraction factory, the canal and electric furnace project of Qila-e-Mamae of Takhar province and Qala Zal district of Kunduz province, the project of planting plan of sunflower on 10,000 hectares of land in the Abadan desert and other various plans are among the achievements of this corporation. It is worth mentioning that Kunduz Spinzar SOC is located in the north-eastern zone of Kunduz province. In (1314 Hijri) it was named as Northern-zoon Corporation, in (1325) as National Bank and in (1329) as Textile Corporation, in (1335) as Cotton Seed Association and finally in (1339) was named as Kunduz Spinzar SOC. From (1362-1399) it has operated as a for-profit state enterprise within the framework of the enterprise law, and later on during the stages of its legal personality was changed from an enterprise to a state-owned corporation in 1400 Hijri.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې مونږ ته راواستوي.